**د افغـــانستان اســـلامي امـــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲/جمادی الاولی /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲/ عقرب/۱۴۰۴هـ، ش**

# د نړيوالو فشارونو او د ګاونډيو د مداخلې په وړاندې د وحدت او استقامت د ساتلو ضرورت

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله العزيز القدير، والصلاة والسلام على نبينا السراج المنير، وعلى آله وصحابته أجمعين، أصحاب المواقف والجبال الرواسخ، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، وبعد:

قال الله سبحانه وتعالى:(إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ * نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ).فصلت:(۳۱)

**درنو هيوادوالو او معززو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

د حق او باطل ترمنځ مبارزه د آدم عليه السلام او د شيطان د پيدايښ له وخت څخه شروع شوې ده او تر قيامت د راتلو پورې به دوام ومومي.

ددښمن سره په مقابله کې کامیابي او کله ناکله شکست د جګړې طبيت دی. لکه چې په يو روايت کې راځي: (الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ سِجَالٌ يَنَالُ مِنَّا وَنَنَالُ مِنْهُ). صحيح البخاري (۱ /۹)

ژباړه:- جنګ زمونږ او د هغه ترمنځ د ارټ د بوکې په شان دی، کله مونږ ته شکست راکړي او کله مونږ هغه ته شکست ورکړو.

**درنو هيوادوالو!**

مونږ او تاسې ټولو ته بهتره معلومه ده، چې تقريباً (۵۰) پنځوس کاله کيږي چې د ګاونډيانو له خوا په افغانسـتان مداخله روانه ده ، په ځانګړې توګه د کومې ورځې نه چې د افغانستان داسلامي امارت مجاهدينو په  خپلو سرښندنو، قربانيو او استشهادي عملياتو او د وينو په قيمت سره ددې خاورې څخه د ناټو، امريکا او د هغوی متحدين و شړل او په افغانستان کې د ا سلامي امارت تر چتر لاندې ا سلامي نظام حاکم شـو، د هغې ورځې څخه را په ديخوا نړيوالو په افغانسـتان او د افغانسـتان پر مجاهد ولس باندې ډول ډول فشـارونه راوړې دي او د افغانستان په داخلي چارو کې رنګ رنګ مداخلې کوي ، نړيوالو د افغانستان د ملت سرمايه کنګل کړه ، په تجارتي او اقتصادي برخه کې يې قيدونه او بنديزونه وضع کړل، په نړيوال ستيج يې دافغانستان حکومت د پيژندلو او اعتراف مخه يې ونيوله.

د ژوند  په ټولو برخو کې يې دافغانسـتان سره د سـيمئيزو همکاريو مخه ډب کړه او ددولت د مشرانو په تګ راتګ يې بنديز ولګولو او افغانان يې په خپل کور کې لکه د شِعب ابي طالب په څير محاصره کړي دي.

همد ارنګه ګاونډيان د افغانستان په چارو کې ناوړه او د نړيوالو اصولو خلاف مداخله کوي چې دا هم د نړيوال فشار يوه برخه ده.

مونږ او تاسې ولیدل چې زمونږ ګاونډي په ډیرې سپین سترګې سره د افغانستان په زړه کابل کې او په کندهار او پکتیکا ولایتونو کې په بې دفاع هیوادوالو باندې بمبارونه وکړل او زمونږ هیوادوال یې شهیدان او ټپیان کړل.
د ګاونډیانو ددغو بې شرمانه مداخلو څخه مقصـد دادی، چې مونږ افغانان دهغوی ناجائزې او نا معقوله غوښـتنې ومنو، د خپلې خاورې واک ورته ور وسپارو او یا یې په سیاسي واک کې شریک کړو، هغوی غواړي چې د خپل ځان او مال اختیار ورلره ورکړو، زمونږ ګاونډیان زمونږ څخه غواړي چې د الله تعالی د راکړو ثروتونو، معدنونو او اوبو څخه سـالمه ګټه وانخلو، هغوی غواړي چې په افغانسـتان کې باید هیڅ اقتصـادي حرکت او پرمختګ ترسره نشي- او مونږ باید لاس تر زنې کینو او هغوی پریږدو چې زمونږ په داخلي چارو کې چې څرنګه یې خوښه وي هغسې لاسوهنې وکړي.
زمونږ ګاونډیان وایي چې زمونږ په خوښه به تاسو خپله سیاسي پالیسي عیاروئ او د نړیوالو سره به روابط زمونږ په خوښه ټینګوئ.
زمونږ ځینې ګاوندیان زمونږ څخه غواړي چې په نړیوال ستیج د نړیوالو سره زمونږ په سر سودا وکړي او زمونږ نمایندګي وکړي او زمونږ سیاسي چارې په خپل لاس کې واخلي ، ته به وایې چې مونږ د هغوی حلقه بګوش غلامان یو؟
حال دادی چې که چیرې ګاونډیان زمونږ ویاړلي تاریخ ته مراجعه وکړي وبه ویني چې د افغانســتان مجاهد ملت تل د نورو سرنوشـــت ټاکلی دی او دا یې په طبیعت کې نشته چې بل ته سر ټیټ کړي او خپل سرنوشت د نورو په خوښه وټاکي.
مونږ د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت به هیڅکله د ګاونډیانو ناوړه او غیر مشروع غوښتنو ته د غلامۍ سر ټیټ نکړو.
د نړیوالو فشارونو څخه مقصد دادی، چې مونږ د اسلام مقدس دین پریږدو او د کفارو ددین تابع شو او په افغاني ټولنه کې هغه افکار، معتقدات او قوانین نافذ او رائج کړو چې غرب یې غواړي.
د نړیوالو فشارونو مقصد دادی، چې مونږ د اسلامي قانون پر ځای کفري قانون پرځان عملي کړو، د نړیوالو فشارونو څخه مقصد دادی چې مونږ اسلامي اصیل فرهنګ او کلتور پریږدو او په خپله ټولنه کې کفري، الحادي او د فحشاو ډک کلتور او فرهنګ رائج کړو او ښځې بازارونو ، سرکونو او پارکونو ته را وباسو ترڅو بیګانه نارینه او ښځې یوځای لکه د غرب په څیر ګډ ژوند غوره کړي او د ژوند په هره برخه کې مختلط نظام رامنځ ته کړو، چې د اسلام د مقدس دین او افغاني کلتور سره په ټکر کې دی.
دا هغه غو ښتنې دي، چې الله تعالی څوارلس سوه کاله وړاندې مونږ ته را ښوولې دي او فرمایلي یې دي: (وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلا النَّصَـــارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلا نَصِيرٍ).البقرة: (۱۲۰)
ترجمه:- او هیڅ کله به راضي نه شي له تا نه (ای محمده !) یهودان او نه نصرـانیان تر هغې پورې چې متابعت و کړې ته د دین د دوی ووایه (ای محمده! دوی ته چې) بېشـکه هدایت د الله (اسـلام) هم دغه هدایت دی (او بس) او قسـم دی که چېرې پیروي وکړې ته د خواهـشات د دوی ورو سته له هغه چې راغلی دی تا ته له علمه نو نه به وي تا لره له (عذابه د ) الله هیڅ دو ست ( ساتونکی له بلیاتو) او مددګار (خلاصوونکی له نازله وو عذابونو)
د افغانستان ولس څه ګناه کړې ده، چې نړیوالو تر ظلمانه فشارونو لاندې راوستي دي او ګاونډیان یې په کورنۍ چارو کې مداخله کوي؟
آیا د افغانستان د ملت ګناه داده ، چې دوی وایې مونږ یواځې پر یو الله جل جلاله ایمان لرو او پرته د الله تعالی څخه بل چا ته سر نه ټیټه وو.
آیا زمونږ ګناه داده چې مونږ د خپل کور او هیواد څخه اشغالګر وشړل او د ګاونډیانو او غربیانو فرمایشونو ته غاړه نه ږدو ؟
آیا زمونږ ګناه داده چې په خپل اصیل افغاني او اسلامي کلتور او فرهنګ باندې عمل کوو او د غربي فرهنګ پیروي نکوو؟
آیا زمونږ ګناه داده چې په افغانستان کې اسلامي نظام حاکم دی او د ټولو خلکو شرعي حقوق پرځای شوي دي؟
آیا زمونږ ګناه داده چې مونږ خپلواک او آزاد هیواد، چې د شرق او غرب سره منسلِک نه دی، لرو؟

آيا زمونږ ګناه داد چې مونږ د ځمکې خدايان نه منو او د بشرــ په لاس جوړ بشرـــي قانون نه منو او يواځې د الهي قانون تابع يو؟ **هو!** که چيرې زمونږ ګناه داوي چې مونږ يواځې يو واحد رب چې الله جل جلاله دی ، هغه ته سر ښکته کوو او يواځې يو رب دځپلو دُنيوي او أُخروي چارو خالق او مالک ګڼو او د هغه قانون ته مو ځان تسليم کړی دی! نو بيا مونږ د چا د فشارونو او فرمايشونو پروا نلرو او په خپل کارونه خپل خالق او مالک ذات سپارو او داسې وايو چې: (وَمَا تَنقِمُ مِنَّا إِلاَّ أَنْ آمَنَّا بِآيَاتِ رَبِّنَا لَمَّا جَاءتْنَا) الأعراف:(١٢٦)

ترجمه:- او عيب نه ګڼې (ته ای فرعونه!) له مونږ مګر دغه کار چې ايمان راوړی دی مونږ په آيتونو د رب خپل کله چې راغله مونږ ته.

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايلي دي:(وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ). البروج: (٨)

ترجمه:- او عيب يې نه ليده له هغو مسلمانانو څخه مګر دا چې ايمان لرونکي وو په الله ډېر غالب قوي ډېر ستايلي شوي باندې.

دا څه نوی خبره نه ده ، بلکې هميش که چيرې مونږ قرآ ن کريم ، نبوي احاديثو او تاريخ ته توجه وکړو ،وينو چې تل مســلمانان او د توحيد د عقيدې خاوندان تر فشارونو لاندې راوستل شوي دي او دا د مخکنيو کفارو او منافقينو لار ده.

کله چې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د الله تعالی يووالي ته خلک دعوتول پيل کړل، نو د مکې مشرکينو ور باندې مختلف فشارونه راو ستل، کله به يې ورته ويل د خپل دين څخه واوړه او مونږ به درته د مکې د پيغلو څخه ښکلې پيغله په نکاح کړو، کله به يې ورته ويل چې که چيرې د خپل دين څخه وانه اوړې ، مونږ به دې ووژنو. خو رسول الله صلی الله عليه وسلم ددوی د فرمايشونو په مقابل کې ورته وويل:( والله لو وضـعوا الشـمس في يميني، والقمر في يسـاري على أن أترك هذا الامر حتى يظهره الله، أو أهلك فيه ما تركته).السـيرة النبوية لابن کثير (١ /٤٧٤)

ژباړه:- قسم په الله ! که چيرې دوی(اهل مکه) کيږدي لمر زما په ښي لاس کې او کيږدي سپوږمۍ زما په ڃَپ لاس کې ددې لپاره چې زه دا کار پريږدم ـ ترڅو پورې چې الله تعالی غالب کړی نه وي او يا زه په دې لاره کې هلاک شم ، زه به يې پرې نږدم.

پر رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم او د هغه پر حاميانو يې دومره فشـار راوړ ، چې بني هاشـم قبيله يې په شِـعب ابي طالب کې تقريباََ نږدې درې کاله محاصره کړل او د هغوی سره يې هر ډول مقاطعه اعلان کړه، چې څوک به ورسره خبرې نکوي ، څوک به ورسره خوراکي توکي نه ور پريږدي.

همدا راز د رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم په ملګرو يې مختلف قسـم فشـارونه راړول، ترڅو د اسـلام له دين څخه بيزاره شي، خو مسلمانانو د کفارو د ټولو فشارونو سره په کلکه مقابله کړله ، آن چې کله د زياتو فشارونو څخه په تنګ شول،نو صحابه کرامو حبشې ته يې هجرت وکړ. کفارو به پيغمبرعليه السلام ته به يې ډېر ناوړه ناوړه القاب استعمالول؛لکه مجنون، ساحر، کاهن چې دا ټول په نبي عليه السلام د فشار راوړلو وسيلې وې.

د ر سول الله صلی الله عليه و سلم د قتلولو اراده ، په نبي عليه السلام د قبائلو راټولول او د نبي عليه پرخلاف پټې د سيسې جوړول ټولې پر نبي عليه السلام باندې د فشار راوړلو نمونې دي.

خو نبي عليه السلام او صحابه کرام د کفارو د فشارونو په وړاندې کلک او ثابت ولاړ ؤ او په هر ډګر کې يې ورسره مقابله کوله.

## ١-د نړيوالو فشارونو او د ګاونډيانو د مداخلو په مقابل کې د وحدت ساتلو ضرورت دی:

نن ورځ چې زمونږ ګاونډيان زمونږ څخه غلامي غواړي او زمونږ لپاره ډول ډول دســيســې په کار اچوي او زمونږ ګران هيواد او ملت د نړيوالو فشارونو واقع دی؛ بناءً مونږ پر خپل غيور او مجاهد ولس چې په شرق او غرب کې اوسيږي او يا په شمال او جنوب کې اوسيږي غږ کوو ، چې د دښمنانو د مقابلې لپاره يو بل ته لاس ورکړئ او خپل وحدت او يووالی وساتئ او دښمن د مداخلو او تجاوزونو مخه لکه د خپلو پلرونو او نيکونو په څير ونيسئ او دسيسې يې شنډې کړئ.

د ګاونډي متجاوز هیواد له پلانونو څخه یو پلان هم دادی چې د افغان ولس په منځ کې اختلاف واچوي، ترڅو خپلو شـومو اهدافو ته ورسیږي او خپلې مداخلې ته لاره هواره کړي .
داچې د خپل ځان، مال ، عزت او ابرو څخه دفاع کول پر مونږ لازمي کار دی او دا کړنه پرته له وحدت او یووالي څخه ناشونې ده.
وحدت او یوالی دادی چې عام ولس، سیاسیون، د قلم خاوندان، قومي مشران ... ټول ددښمن په مقابل کې په یو صف کې ودریږي او د خپل نظام ملاتړ په تمامه معنا سره وکړي، ترڅو له یوې خوا ددښـمن دسیسـې شـنډې شي او له بلې خوا خپل ځان، مال ، ملکیت او خپل هیواد ته نجات ورکړي او د الله تعالی حکم هم پرځای شي، چې فرمایلي دي:( وَمَن يُشَـاقِقِ الرَّسُـولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيراً).النساء:( ۱۱۵)
ترجمه:- او هر څوک چې مخالفت کوي له ر سوله وروسته له هغه چې ښکاره شوه ده ته سمه لاره او تابع شي (لاړ شي پر بله لاره) بې له لارې د مؤمنانو نو وبه ګرځوو مونږ دی هغه لوري ته چې دی ورګرځېدلی دی او داخل به کړو مونږ دی جهنم (دوزخ) ته او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).
په یو مبارک آیت کې فرمایي:( وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ).المؤمنون:(۵۲)
ترجمه:- او بېشکه دا (سماوي دین چې توحید او نور مؤمن به شیان دي ای ر سولانو!) ستاسو دین اود ستاسو د ټولو امتیانو دین دی په دې حال کې چې دین یو دی او زه ستاسو رب یم نو وویریږئ له ما.
په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:(وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ) آل عمران:(۱۰۳)
ترجمه:- او منګولې ولګوئ (ای مؤمنانو!) په رسئ د الله چې قرآن دی ټول او مه سره مختلف کېږئ (وروسته له اسلامه).
امام قرطبي رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکي: (إن الله تعالى يأمر بالألفة وينهى عن الفُرقَةَ، لأن الفُرقَةَ هَلَكَةٌ، والجماعة نجاةٌ، ورحم الله ابن المبارك حيث قال: إن الجماعة حبل الله فاعتصموا).تفسير القرطبي (٤ /١٥٩)
ژباړه:- بیشـــکه الله تعالی په اُلفت امر کوي او د تفرقې او ځان ځان والي څخه نهی کوي ؛ ځکه چې په تفرقه کې هلاکت دی او په جماعت او یووالي کې نجات دی.
عبدالله بن المبارک رحمه الله وایې: په آیت روایت دی هغه وایې چې یووالی او جماعت هغه د الله تعالی رسۍ ده ، نو په هغې منګولې ولګوئ.
د عبد الله بن مسعود رضي الله څخه روایت دی هغه وایې :( أن حبل الله هو الجماعة). التفسير من سنن سعيد بن منصور (ص: ٧٦)
ژباړه:- د الله تعالی رسۍ همدغه یووالی دی .
په داســې وخت کې چې ګاونډي هیواد د ټولو شرعي او نړیوالو اصـولو خلاف د امریکا د خوشـحالولو په خاطر زمونږ پر ملت یې نظامي تجاوز وکړ، پر مونږ او تاســې وحدت او د صــف یوالی او دخپل هیواد او هیوادوالو څخه په شریکه دفاع کول فرض دی او هر ډول بې اتفاقي او تفرقه حرامه ده او په اوســني شرائطو کې بې اتفاقي او تفرقه کبیره ګناه ده او څوک چې بې اتفاقۍ او تفرقې ته لمن وهي دا ګناه یې تر بلې هرې ګناه زیاته ده، ځکه چې په ځینو وختونو کې د ځینو شرائطو له امله د ځینو شرعي احکامو مرتبه غلیظه کیږي، لکه په حرم کې زنا کول، د جهاد په سنګر کې د له مجاهدینو غلا کول.
الله تعالی بې اتفاقي او تفرقه حرامه کړې ده او وحدت او یووالی یې واجب ګرځولی دی. الله جل جلاله فرمایلي دي:(مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ . مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ).الروم:(۳۱-۳۲)
ترجمه:- حال دا چې رجوع کوونکي یئ دغه (الله) ته او ویریږئ له الله او قائموئ (سم درو‌ئ سره له ټولو حقوقو) لمونځ او مه کېږئ تاسې له مشرکانو یعني له هغو مشرکانو چې تار په تار کړی یې دی دین خپل او شوي وو دوی ډلې ډلې هر یوه ډله له دوی نه په هغه دین چې له دوی سره دی خوشاله دي‌قال تعالى:(إِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ).الأنبياء:(۹۲)

ترجمه:- په تحقیق دا ملت د توحید ملت او د اسلام دین ستاسې ملت یو دی چې په دغه دین متفق دي ټول انبیاء او زه رب ستاسې یم پس عبادت کوئ زما (خاص نه دبل).

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلي دي: الله تعالی دوی ته په دې آیت کریمه کې په یووالي امر کړی دی او د تفرقې او ځان ځانی څخه یې منع کړې دي او په دې اړه زیات احادیث راغلي دي چې د تفرقې څخه منع کوي او په وحدت او اُلفت باندې امر کوي او الله تعالی مسلمانانو لپاره په وحدت کې له خطاء څخه عصمت تضمین کړی دی او په تفرقه او د اختلاف په صورت کې ددوی په خطاء کې په واقع کیدلو باندې ویره څرګنده شوی ده. تفسیر ابن کثیر / دار الفکر (۱ /۴۷۷)

د وحدت د ساتلو په اړه بې شمیره احادیث راغلي دي، چې په یووالي او وحدت ټینګار کوي او د تفرقې او بې اتفاقۍ څخه ممانعت کوي.

په یو حدیث شریف کې راځي: عن ابن عمر رضي الله عنهما قال : قال رسـول الله صـلى الله علیه وسـلم : «عَلَيكُمْ بِالْجَمَاعَةِ، وَإِياكُمْ وَالْفُرْقَةَ، فَإِنَّ الشَّيطَانَ مَعَ الْوَاحِدِ، وَهُوَ مِنَ الاِثْنَينِ أَبْعَدُ، مَنْ أَرَادَ بُحْبُوحَةَ الْجَنَّةِ فَلْيلْزِمِ الْجَمَاعَةَ». رواه الترمذي

ترجمه:- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی ، هغه وایي چې رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل : پرتاسو لازم دي چې له جماعت (د مسلمانانو له لوی اکثریت ) سره واوسئ اود بیلتون او جلاوالي څخه ډډه وکړئ، ځکه شیطان د یوازې تن سره وي او هغه ( شیطان ) له دوو تنو څخه ډیر لرې وي، څوک چې د جنت خوښ بویونه غواړي، نو هغه باید د مسلمانو له اکثریت سره وي .

په یو بل حدیث کې راځي چې الله تعالی په یووالي راضي کیږي او په بې اتفاقۍ ناراضـه کیږي.(عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : إِنَّ اللهَ يرضى لَكُمْ ثَلَاثًا، وَيكْرِهُ لَكُمْ ثَلَاثًا، فَيرضى لَكُمْ، أَنْ تَعْبُدُوهُ، وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيئًا، وَأَنْ تَعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا، وَيكْرَهُ لَكُمْ، قِيلَ وَقَالَ : وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةُ الْمَالِ ).الموطا، صحيح مسلم

ترجمه:- له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي : د الله رسول صلى الله علیه وسلم وفرمایل : الله تعالی درې څیزونه ستاسو لپاره خوښـوي او درې څیزونه درته بد ګڼي : دا خوښـوي چې د ده عبادت وکړئ او له ده سره شریک ونه نیسـئ او دا چې ټول د الله په رسۍ (د الله په دین ) منګولې ونښلوئ او په خپلو کې مختلف نشئ او بد ګڼي ستا لپاره ډیره وینا او ډیر سوال کول او د مالونو ضایع کول.

په یو بل حدیث شریف کې وحدت او یووالی فرض ګرځول شـوی دی:(عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، عن النبي صـلى الله علیه وسـلم قال : ثَلَاثٌ لَا يغَلُّ عَلَيهِنَّ قَلْبُ مُسْـلِمٍ : إِخْلَاصُ الْعَمَلِ لِلَّهِ، وَمُنَاصَـحَةُ أَئِمَّةِ الْمُسْـلِمِينَ، وَلُزُومُ جَمَاعَتِهِمْ، فَإِنَّ الدَّعْوَةَ تُحِيطُ مِنْ وَرَائِهِمْ).رواه الترمذي

ترجمه:- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: پیغمبر صلى الله علیه وسلم وفرمایل : درې څیزونه دي چې هیڅکله د مسلمان زړه په هغه کې خیانت نه کوي: د الله لپاره په عمل کې اخلاص کول او د مسلمانو امامانو ته نصیحت کول او د مسلمانانو له ډلې سره ځان یو ځای کول او له هغې سره ځان لازم ګڼل . ځکه د مسلمانانو دعوت او بلنه دا څیزونه په خپله احاطه کې رانیسي.

اسلامي شریعت د مسلمانانو د یووالي او وحدت د له منځه وړونکي شخص وژل هم په هغه وخت جائز کړي دي چې د مسلمانانو وحدت او یووالی له منځه وړي او بې اتفاقي او هرج مرج په ټولنه کې رامنځ ته کوي. یعنې که چیرې داسـې څوک راشي او کوښـښ یې داوي چې ستاسې موجوده وحدت له منځه یوسي او ستاسې ترمنځ بې اتفاقي رامنځ کړي او ستاسو په منځ کې تفرقه واچوي ، نو د مسلمانانو د عمومي مصلحت په خاطر تاسـو ته اجازه ده، چې هغه شـخص ووژنئ، ځکه چې د یو شـخص په وژلو سره د ډیرو مسلمانانو ځانونه، مالونه، عزتونه مصـئون کیږي او ټولنه له پاشـیدلو څخه نجات مومي. نبي علیه السـلام فرمایلي دي:(عن عرفجة رضي الله عنه، قال سمعت ر سول الله صلى الله علیه و سلم یقول: «من أتاكم، وأمركُمُ جميعٌ على رجلٍ واحدٍ، يُريدُ أن يَـشُقَّ عـصاكم، أو يُفَرِّقَ جماعتكُم، فاقتلوه».صحيح مسلم (٦ /٢٣)

ژباړه:- د عرفجه رضي الله عنه څخه روای دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې داسې یې وفرمایل: څوک چې تاسو ته راشي په داسې حال کې چې ستاسو کار په یو سړي راټول وي او هغه غواړي چې ستاسې امساء ماته کړي او یا ستاسې ټولنه یو له بل څخه جدا کړي ، نو وه یې وژنئ.

که چیرې زمونږ او ستا سې ترمنځ وحدت موجود وي ، نو مونږ سره د الله تعالی نصرت به مل وي او هیڅوک نشي کولای چې زمونږ پر حریم باندې تیری وکړي او مونږ له منځه یوسي. په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدُ اللَّهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ ). سنن الترمذي (٤ /٤٦٦)

ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي ، چې د الله تعالی مرسته او نصرت د مسلمانانو له ټولي او جماعت سره مل دی.

البته یووالی اووحدت هغه وخت رامنځ ته کیږي ، چې مونږ ټول د شرعي امیر او زعیم په حمایت کې راټول شوي یو، نو د وحدت لپاره دشرعي امیر او زعیم شتون حتمي دی.

همدا وجه ده چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه چې د عراق لوی مجتهد صحابي ؤ او د هغه پر وخت کې دښمنانو د مسلمانانو ترمنځ اختلافات رامنځ ته کړي ؤ، حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د مسلمانانو دټولنې د حفاظت لپاره په دوه خبرو امر او ټینګار کولو او خلکو ته به یې په وحدت او د مسلمانانو دلوی جماعت سره پر یوځای کیدو امر کولو او داسې به یې فرمایل:(عَلَيْكُمْ بِالطَّاعَةِ وَالْجَمَاعَةِ، فَإِنَّهُمَا حَبْلُ اللَّهِ الَّذِي أَمَرَ بِه). شرح السنة للبغوي (١٠ /٥٤)

ژباړه:- په تاسې واجب دی اطاعت (د امیر او حاکم) او پر تاسې واجب دی یووالی او وحدت، ځکه دا دواړه د الله تعالی هغه رسۍ دي چې الله تعالی ورباندې امر کړی دی.

د خپل امیر او سلطان د اطاعت لپاره دامیر او سلطان عدالت او سپیڅلتوب شرط مه ګرځوئ، ځکه دا د وحدت او د اطاعت په مخ کې خنډ جوړیږي او هیڅکله به بیا تاسې داسې عادل سلطان او امیر پیدا نکړئ، چې تاسې به د هغه پر اطاعت راټول شی. په یوروایت کې سماك بن الولید الحنفي څخه راځي:(عن سماك بن الوليد الحنفي، أنه لقي ابن عباس رضي الله عنه، فقال: "ما تقول في سلاطين علينا يظلموننا؛ يشتموننا ويعتدون علينا في صدقاتنا، ألا نمنعهم؟"، قال: "لا؛ أعطهم؛ الجماعةَ الجماعةَ، إنما هلكت الأمم الخالية بتفرقها، أما سمعت قول الله: {وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا} [آل عمران:١٠٣]؟). تفسير ابن أبي حاتم (٣ /١١٧)، الدر المنثور في التفسير بالمأثور (٢ /٢٨٦)

ژباړه:- د سماك بن الوليد الحنفي رحمه الله څخه روایت دی ، هغه وایې چې زه د عبدالله بن عباس رضي الله عنه سره مخامخ شوم، ورته یې وویل: ته څه وایې په باره د هغو پاچاهانو کې چې پر مونږ ظلم کوي ؛ مونږ ته کنځل کوي او پر مونږ تجاوز کوي په صدقاتو زمونږ کې ، آیا مونږ دوی منع نکړو او مخه یې ونه نیسو؟ عبدالله بن عباس رضی الله عنه ورته وویل: چې نه! ددوی ممانعت مه کوئ. دوی ته ورکړئ صدقات ، پر تاسو لازم دی وحدت او یو واحد جماعت ساتل ، پر تاسو لازم دی وحدت ساتل او جماعت ساتل. بیشکه ستاسې څخه مخکې تیر شوي امتونه هلاک شوي ؤ د بې اتفاقۍ او تفرقې په وجه آیا تا نه دی اوریدلې د الله تعالی داقول: {وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا} [آل عمران:١٠٣]؟

زمونږ او ستاسو په وحدت او یووالي ساتلو کې بې شمیره دُنیوي او اُخروي ګټې او فائدې پرتې دي:

١- د افغانانو ترمنځ وحدت ساتل افغانانو ته د بیروني ګواښونو او فشارونو په مقابل کې قوت او استحکام وربښي.

٢- د افغانانو ترمنځ وحدت او یووالی د افغاني ټولنې ترمنځ اتصال او پیوستون رامنځ ته کوي، ترڅو دټولنې ټول غړي او افراد د یو او بل له مشکلاتو څخه خبر وي او د یو بل مرستې ژر رسیدګي وکړي.

٣- دافغانانو ترمنځ یووالی دافغاني ټولنې سره د بیروني او وارداتي افکارو، فرهنګونو او کلتورونو په لمنځه وړلو کې مرسته کوي.

۴- د افغانانو ترمنځ وحدت او يووالی ، نړۍ ته ددوی د عظمت ، قوت ، عزت او کرامت ريښتينی انځور وړاندې کوي.
۵- د افغانانو ترمنځ وحدت او يووالی د اسلامي مفاهيمو، ارزښتونو، عقائدو او اخلاقو واقعيت او حقيقت نړيوالو ته روښانه کوي.
٦- د افغانانو ترمنځ وحدت او يووالی د افغانانو په منځ کې اُلفت، عدالت، محبت ټينګوي .
۷- د افغانانو ترمنځ په وحدت او يووالي سره افغاني تاريخ را ژوندی کيږي .
۸- د افغانانو ترمنځ په وحدت او يووالي سره د افغانانو ترمنځ قبيلوي، سمتي، ژبني او نژادي عصبيت محوه کيږي.
۹- د افغانانو ترمنځ وحدت ، په حقيقت کې د کورنيو ، افرادو او د ټولنې ، بلکې د ټول عالم اسلام د قوت سبب دی.

**۲- د نړيوالو فشارونو او د ګاونډيانو د مداخلو پر وخت د ملت د استقامت ضرورت دی:**

پر مونږ او تاسې د هيواد له حريم څخه دفاع فرض ده او مونږ او تاسې ته دد ښمن د مداخلو او فشارونو په مقابل کې په خپل وحدت او دين باندې ثابت پاتې کيدل او استقامت اختيارول زمونږ د کاميابۍ نښه ده .

قرآن کريم مونږ او تاسې ته د سختيو او ددښمن سره د مقابلې او مخامخ کيدو او ددښمن د فشارونو په مقابل کې په ثبات او استقامت امر کړی دی او فرمايلي يې دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُواْ وَاذْكُرُواْ اللّهَ كَثِيراً لَّعَلَّكُمْ تُفْلَحُونَ).الأنفال:(٤٥)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو!) کله چې مخامخ شئ کوم فوځ (دښمن) سره چې جنګ درسره کوي نو ثابت قدم و اوسئ تاسې او مه ترې تښتئ او يادوئ الله ډېر په خوله او زړه ښايي چې تاسې په مراد ور سيږئ په بري سره پر دښمن د ذکر په برکت.

الله جل جلاله خپل خوږ پيغمبر او د هغه امت ته په استقامت امر کړی دی او فرمايلي يې دي:( فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلاَ تَطْغَوْاْ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ). هود:(١١٢)

ترجمه:- نو مستقيم او ثابت اوسه لکه چې حکم کړی شوی دی تاته او هم مستقيم او ثابت دې اوسي هغه څوک چې توبه يې ايستلې ده له تاسره او مه تيريږئ له حده بېشکه چې الله پر هغو کارونو چې کوئ يې تاسي ښه ليدونکی دی.

په يو بل مبارک آيت کې راځي: (فَاسْتَقِيمُوا إِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ وَوَيْلٌ لِلْمُشْرِكِينَ).فصلت:(٦)

ترجمه:- پس سم مستقيم ورځئ ده ته (توحيد) او مغفرت وغواړئ له ده نه!

ددښمن سره مقابله کول او د هغوی د سياسي او نظامي فشارونو په مقابل کې استقامت او ثابت قدمي غوره کول هغه کار دی، چې الله تعالیورباندې مونږ ته حکم کړی دی او فرمايلي يې دي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)آل عمران: (٢٠٠)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو!) صبر کوئ په طاعت ،مصيبت، او له معصيته) او ټينګ اوسئ! په صبر د کفارو په مقابل کې او محکم اوسئ په اسلامي سرحداتو کې! او ويريږئ له الله لپاره د دې چې په مراد ورسيږئ بريالي شئ او د دوزخه نجات ومومئ.

د ژوند په هره سخته لحظه کې، بالخصوص دد ښمن د فشارونو او د هغوی دد سيسو په مقابل کې استقامت د هغه چا کار دی چې په الله تعالی کلک ايمان او باور لري.

څوک چې دا وايې چې زمونږ رب الله تعالی دی او بيا ددښمن په مقابل کې استقامت اختيار کړي ، الله تعالی دداسې خلکو دنصرت لپاره ملائکې رالېږي او دوی ته په استقامت ثابت قدمي ور ښېښي او ورته د کاميابۍ زيری او اطمينان ورکوي، لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي: (إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ).فصلت:(٣٠)

ترجمه:- ښېشکه هغه کسان چې ویلي یې دي صدقاً له زړه چې رب زمونږ الله دی بیا ټینګ ولاړ وي په دغه توحید او نورو اعمالو د دین را نازلیږي به پر دوی پرښتې د ساختلو په وخت او په قبر کې چې داسې به وایي مه ویریږئ او مه خپه کیږئ او خوشاله اوسئ تاسې په جنت هغه چې وئ تاسې چې وعده یې در سره کړی شوې ده په ژبې د انبیاء الله سره.

همداراز الله تعالی فرمایلي دي:( إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْـــتَقَامُوا فَلاَ خَوْفٌ عليهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ، أُوْلَئِكَ أَصْـــحَابُ الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا جَزَاء بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ).الأحقاف: (۱۳-۱۴)

ترجمه:- ښېشکه هغه کسان چې وایي رب زمونږ الله دی بیا ټینګ و دریږي په عبادت د ده پس نه به وي هیڅ وېره پر دوی او نه به وي دوی چې خپه به شي په آخرت کې.

څوک چې ددښـــمن څخه د ویرې او خوف پر وخت په دین اســـتقامت غوره کړي ، الله تعالی به ورته دنیا کې زیات مال او نور نعمتونه ورکړي دُنیوي او اُخروي نیکې بدلې ورکړي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي :(و ان لو اسْـــتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لأَسْـــقَيْنَاهُم مَّاء غَدَقًا) { الجن : ۱٦}

ترجمه:- او بله وحي راغلې ده ماته چې که دا خلق اهل دمکې برابر شي پر طریقه سمې لارې د اسلام نو هرو مرو به وڅښوو دوی ته اوبه ډېرې پس له قحطه تر څو وازمویو مونږ دوی په دغه نعمت کې.

د تاریخ په اوږدو کې پر افغانستان مختلفو قومونو او امپراطوریو حملې او یرغلونه کړي دي، خو ددې ټاټوبي اوسیدونکو استقامت او ثبات له لاسه نه دی ورکړی او ښه په میړانه سره یې دښمن ته ځواب ورکړی دی.

## د استقامت ګټې او فائدې:

۱. استقامت خپلو بندګانو ته د الله تعالی امر او خپل امت ته د پیغمبر سپارښتنه ده .
۲. استقامت د سختۍ او ددښمن په مقابل کې د انسان عزم او اراده قوي کوي.
۳. څوک چې استقامت اختیار کړي، هغوی د الله پرته له هیچا څخه نه ویریږي او نه به دوی په غمونو او پریشانیو اخته شي.
٤. استقامت زړه ته اطمینان ورکوي او په حق باندې د پاتې کیدل انسان ته اسانوي.
٥. استقامت انسان د بزدلۍ او تزلزل څخه ساتي او ثابت قدمي ورته ور په برخه کوي.

**نسأل الله عز وجل الاستقامة على الإيمان والثبات في الملمات، اللهم يا مقلب القلوب ثبت قلوبنا على دينك، وصلي الله على نبينا محمد**

**وعلى آله وصحبه أجمعين.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**